د افغانستان اسلامي امارت
د مشرتابه مقام دفتر

ګڼه: ۲۳۶ج۱ | نېټه: ۱۴۴۳/۷/۱۰هـق

بسم الله الرحمن الرحیم

## د نظامي محاکمو د چارو د حدودو د ټاکلو په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله

# حکم

نظامي محاکم د شرعي احکامو په رڼا کې د اسلامي امارت د درې ګونو امنیتي ارګانونو (ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو لوی ریاست) پر چارواکو او منسوبینو باندې د ترسره شوو شکایاتو، دعواوو او عرائضو د اورېدلو او څېړلو او د اثبات په صورت کې د شرعي پرېکړو د صادرولو صلاحیت لري، چې د پرېکړو (حدود، قصاص او اعدام) تطبیق به یې د درې ګونو محکمو او اسلامي امارت د مشرتابه تر تأیید وروسته په عملي ډول ترسره کېږي.

د اسلامي امارت درې ګوني امنیتي ارګانونه د نظامي محکمې د پرېکړو د عملي کولو په ملاتړ په جدي ډول مکلف دي.

والســــــلام
د اسلامي امارت مشرتابه مقام

قید وارده ۱۸۸ ریاست دفتر مقام
۱۴۴۳/۷/۱۱